**میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه**

**علمي او محصلانو چارو معاونیت**

**د څېړنو او علمي مجلې آمریت**

ګڼه : ۱۱ / ۶۹

نیټه : ۲/ ۲۳ / ۱۴۰۲ل.ل

| ابلاغیه | اطمینانیه | عادي | عاجل |
| --- | --- | --- | --- |
| | | | √ |

**د علمي او محصلانو چارو محترم مقام ته!**

**محترما :**

**د څېړنو او علمي مجلې آمریت لخوا د څېړنو پالیسي او کړنلاره په ۲۱ ورقو کې ددې مکتوب سره مل ترتیب او د موسسې په علمي شورا کې د تایید په موخه یې ستاسې محترم مقام ته درلیږو.**

**درناوی**

**پوهنیار انعام الله عابد ماموندزی**

**د څېړنو او علمي مجلې آمر**

: د ولایت مقام پخوانی ودانی، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژي ریاست مخته، کلات ښار،زابل ، افغانستان د اړیکې شمیره: ۰۷۷۲۲۹۶۸۰۰

د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو موسسه

علمي او محصلانو چارو معاونیت

د څیړنو او علمي مجلې آمریت

# د څیړنو پالیسي

کال: ۱۴۴۴ هـ ق ۱۴۰۲ ه ش

# میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو موسسه

# د څېړنو او تحقیق پالیسي

## سریزه

علمي څېړنې د پرمختګ او انکشاف لپاره د مهمو او اساسي فکتورونو څخه ګڼل کیږي. څرګنده ده چې په علمي، ټولنیز، فرهنګي او اقتصادي برخو کې پرمختګ او انکشاف نیغ په نیغه په څېړنیزو فعالیتونو پورې اړه لري. علمي څېړنې د هر هیواد او په ځانګړې توګه د لوړو زده کړو په برخه کې د دوامداره پرمختګ او انکشاف تضمین کوي. که څېړنه نه وي، علم او پوهه پراختیا نه مومي او د تحصیل د کیفیت د ټیټوالي سبب ګرځي. د نړۍ په کچه پوهنتونونه د علمي څېړنو د ترسره کولو له لارې د علم او پوهې د انکشاف مرکزونه دي. په همدې اساس د علمي څېړنو آمریت په ۱۴۴۴ ه ق کال کې د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو موسسې په چوکاټ کې رامنځته شو تر څو په موسسه کې د علمي څېړنو د ترسره کولو لپاره مناسب چاپیریال منځته راوړي او د ټولنې د ستونزو د حل په موخه د معیاري او لوړکیفیته څېړنو د ترسره کولو له لارې د علم او پوهې په خپرښت کې اغیزمن رول ولوبوي. د یاد علمي څېړنو آمریت په چوکاټ کې د موسسې په کچه د علمي څېړنو کمېټه هم شتون لري چې د علمي څېړنو آمر په کې د کمیټې د مسؤل او له دری ګونو پوهنځیو څخه یو یو تن استاد، د کمیټې د غړو په توګه ګډون لري.

میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو موسسه کې اوس مهال د یو شمیر لوړ تحصیل لرونکو استادانو شتون چې د علمي څېړنو په برخه کې ځانګړې مهارت او معلوماتي تکنالوژۍ ته د لاسرسي لپاره پوره مهارت او امکانات لري، د دې مؤسسې د قوت له ټکو څخه ګڼل کیږي. د مؤسسې په کچه د علمي څېړنو آمریت او مرکز شتون د استادانو لپاره د علمي څېړنو د ترسره کولو په برخه کې د اسانتیاوو د رامنځته کولو لپاره یو ښه فرصت برابروي.

د څېړنې پالیسۍ اصل هدف د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو موسسه د دې جوګه کول چې د پوهې د لاسته راوړلو، ستونزو ته د حل لارو موندلو او د هیواد د اړتیاو د پوره کولو په موخه په ملي کچه معیاري څېړنو ترسره کولو ته زمینه برابره شي. د دې پالیسی پربنسټ د علمي څېړنو د میتودولوژۍ د زده کړې او د استادانو د څېړنیزو وړتیاو د انکشاف له لارې هڅه کیږي چې له یوې

خوا د استادانو د علمي او اکاډمیک مکلفیت او مسؤلیت د پوره کولو او له بلې خوا د علمي او مسلکي پرمختګ او همدارنګه د نورو پوهنتونونو سره د هغوی د اړیکو د پیاوړتیا په لاره کې همکاري رامنځته شي چې دا کار به د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو موسسه د ستراتیژیک، پلان د اهدافو د تحقق سره مرسته وکړي.

په افغانستان کې د څیړنې اهمیت او اړتیا

اکاډمیکې او علمي څیړنې د یو هیواد په تحصیلي او زده کړ یزو نهادونو کی د ځان بساینې لپاره یوه ښه لار ده او په نړۍ کې د پرمختګ او هوساینې له مهمو شاخصونو او محورونو څخه ګڼل کیږي. هغه علمي لاسته راوړنې چې موږ او تاسې یې لرو د نورو علمي سرچینو د لوستلو او مطالعه کولو حاصل دی، او یا هم دا ډول علمي لاسته راوړنې هغه څیړنې دي جې موږ پخپله ترسره کړي. که چیری زموږ علمي لاسته راوړنې په تحلیل، تجزیه،نیوکه او د څیړنو په نویو نظریو باندې ولاړې وي نو ډاډه یو چې زموږ هڅې د علم په تولید بدل شوي، څرنګه چې د څیړنو اهمیت د نوی پوهې په تولید کې دی؛هغه پوهه چې وکړای شي یوه مسله حل کړي بنآ دا واقیعت (نوی پوه)هغه وخت تر څیړنې لاندې نیول کیږي چې د ټولنې حقایق او واقیعتونه په خپلو اطرافو کې د څیړنیزو پروژو په جوړښت کې په علمي ډول ترسره شي. د هیواد اوسني وضیعت ته په کتو ټول دولتي او خصوصي سازمانونه او ادارې په ځانګړې ډول تعلیمي او تحصیلي مرکزونه/نهادونه او د لوړو زده کړو موسسې د مختلیفو څیړنیزو مسایلو مخ شوي/کیږي چې د څیړولو سره نیغ په نیغه اړیکه لري نو دڅیړنې د فرهنګ رواج کول او د څیړنیزو پروژو پلي کول د افغانستان د اکاډمیکې حوزې جدي اړتیاوې دي.

## عمومي موخې

د موسسې په کچه علمي څېړنو ته پراختيا ورکول او د څېړنو د ترسره کولو لپاره د مناسب چاپيريال او اسانتياو برابرول.

## ځانګړې موخې

۱ـ د علمي څېړنو لپاره د پلانونو او ستراتېژيو جوړول او د څېړنيزو پروګرامونو د تطبيق او پرمختګ څخه څارنه.

۲. د هيواد په کچه د اړتيا وړ او هدفمندو علمي څېړنو په برخه کې د معيارونو سره سم د علمي کادر د غړو مهارتونو ته پراختيا ورکول.

۳. د تحصيلي موسسې په کچه د علمي او څېړنيزو کارونو سرته رسولو په موخه د علمي کادر غړو ته د اړينو اسانتياو برابرول.

۴ـ د علمي څېړنو په برخه کې د تحصيلي موسسې او نورو اړونده مؤسساتو او اورګانونو د علمي څېړنو د مرکزونو ترمنځ همکاريو ته ټينګښت او پراختيا ورکول.

۵ـ د څېړنو د پايلو د خپريدو چارې تنظيمول او د علمي څېړنو د پايلو او لاسته راوړنو څخه د ټولنې په علمي، مسلکي، اقتصادي او ټولنيز انکشاف او پرمختګ کې ګټه پورته کول.

۶. د څيړنيزو فعاليتونو د پلي کيدا په موخه د موسسې د استادانو او محصلينو تر منځ انګيزه جوړونه او هڅونه.

۷. د علمي کادر غړيو د د علمي څيړنو د پايلو نشرول.

## ماموريت

په دې پاليسی کې لاندې ټکي د ماموريت تر سرليک لاندې په نظر کې نيول کيږي:

۱. د تحصيلي موسسې په کچه علمي څيړنو ته پراختيا ورکول او د څيړنو د ترسره کولو لپاره د مناسب چاپيريال رامنځته کول.

۲. د استادانو لپاره د علمي څېړنو په برخه کې د زده کړه ييزو اسانتياو برابرول.

د تحصيلي موسسې په کچه د علمي څېړنو په برخه کې د زده کړه ييزو کورسونو د دايرولو له لارې د بيلابيلو پوهنځيو د استادانو روزل.

۳. د علمي څېړنو د پايلو څخه د ګټه اخيستنې لپاره د اسانتياو برابرول.

د تحصیلي موسسې د علمي څېړنو آمریت د اړونده ریاستونو او مؤسساتو سره د علمي چارو په برخه کې اړیکې ولري، او د علمي څېړنو د پایلو شریکولو په موخه د ویب پاڼې، علمي مجلو او د اړونده ریاستونو او مؤسساتو سره په ګډه علمي او مسلکي کنفرانسونه دایرکړي.

۴. د پوهنځیو او تحصیلي موسسې د علمي کادر د غړو ترمنځ د علمي او مسلکي اړیکو ټینګول.

۵. د علمي او مسلکي اړیکو د ټینګښت لپاره د موسسې په کچه د علمي څېړنو آمریت د علمي څېړنو په برخه کې د علمي تجاربو د شریکولو لپاره په ګډه علمي غونډې، کنفرانسونه او سمینارونه دایروي.

٦. د علم د انکشاف او د ټولنې اړتیا ته په کتو په مختلفو برخو کې علمي څېړنو ته وده ورکول.

د تحصیلي موسسې په کچه د علمي، ټولنیزو او اقتصادي ستونزو د حل په موخه د علمي څېړنو په لاره اچول د علم انکشاف او د ټولنې ښه والي ته لاره هواروي.

۷. د موسسې په کچه د څېړنیزو کارونو رهنمایي او نظارت کول.

۸. د څېړنیزو کارونو د اجرأ ځخه د موسسې د مالي سرچینو تأمین او تقویه کول.

۹. د لیسانس دورې د منوګرافونو د لیکلو لپاره د لارښود ترتیبول.

## د علمي څېړنو آمریت دندې او مسؤلیتونه

د علمي څېړنو آمریت دندې په لاندې ډول دي:

۱. د لوړو زده کړو وزارت د پالیسیو سره سم په تحصیلي موسسې کې د علمي څېړنو د پراختیا او پیاوړتیا لپاره د مناسبو لارو چارو لټول.

۲. د علمي څېړنو لپاره د بیلا بیلو پلانونو ترتیب او تطبیقول.

۳. د تحصیلي موسسې په کچه د څېړنې او ژباړې د میتودونو اړوند معلوماتو د ارایه کولو په موخه د کنفرانسونو او سمینارونو دایرول.

۴. د علمي څېړنو د پرمختګ لپاره د پوهنځیو د علمي څېړنو له کمېټو سره ګډې هڅې کول او د هغوی د کړنو څخه نظارت کول.

۵. د علمي څېړنو اړوند موضوعاتو په اړه د استادانو، څېړونکو او څېړنیزو مؤسساتو سره هراړخیزه همکاري کول او د څېړنیزو پروژو په لاره اچول.

٦. د افغانستان اسلامي آمارت د نشراتو د پالیسی سره سم په داخلي او نړیوالوژورنالونو کې د ترسره شویو څېړنو د پایلو د نشرول.

۷. د علمي څېړنو دپراختیا په منظورد لوړو زده کړو وزارت د پالیسی سره سم د ملي او نړیوالو مؤسساتو د مرستو راجلبول او د هغوی سره دوه اړخیزه ګټورو اړیکو ته پرمختګ ورکول.

۸. د قانون او لایحې سره سم د اړونده امر لخوا د راسپارل شویو ټولو دندو ترسره کول.

## د څېړنو دکمېټې دندې او مسؤلیتونه!

د تحصیلي موسسې د علمي څېړنو کمېټې غړي د علمي شورا لخوا رامعرفي کېږي. د دې کمېټې د غړو فعالیتونه د هغوی په درسي مکلفیت کې محاسبه کیږي.

د علمي څېړنو د پالیسی پر بنسټ د تحصیلي موسسې د علمي څېړنو کمیټې غړي د لاندې دندو په سرته رسولو مکلف دي:

## څېړنو کمېټې دندې او مسؤلیتونه!

۱- په تحصیلي موسسه کې د لوړو زده کړو وزارت د علمي‌څېړنو د پالیسیو او طرزالعملونو د تطبیق څخه څارنه.

۲- د تحصیلي موسسې په کچه د علمي څېړنو او نورو نوښتیزو فعالیتونو د پرمختګ او پیاوړتیا لپاره مناسب چاپیریال منځته راوړل او د علمي‌څېړنو د پراختیا او پیاوړتیا لپاره د لوړو زده کړو وزارت د پالیسیو سره سم برابرول.

۳- د لویو او کوچنیو څېړنیزو پروژو د ترلاسه کولو او تطبیقولو لپاره د تحصیلي موسسې د استادانو هڅول.

۴- د ټولنې اړتیاو او ستونزو ته د ځواب ویلو په منظور د علمي څېړنو کیفیت لوړول او په دې برخه کې د پالیسیو او ستراتیژیو منځته راوړل.

۵- د سیمینارونو، کنفرانسونو، کورسونو، اوورکشاپونو له لارې د علمي څېړنو د میتودونو سره د څېړونکو اومحصلینو اشنا کول.

٦ - د علمي څېړنو د پروژو تنظیم، تطبیق، څارنه او د دولت د پالیسی سره سم د هغې د نتایجوخپرول.

۷- د علمي څېړنو اړوند فعالیتونو د ترسره کولو لپاره د بیلا بیلو پلانونو جوړول.

۸- د علمي څېړنو لپاره دسرچینو برابرول او د اړونده ارګانونو سره د څېړنو په برخه کې د همغږۍ رامنځته کولو په موخه د توأمیتونو رامنځته کول.

۹- د علمي څېړنو دقیقه څارنه او دلوړو زده کړو دلوایحو او مقرراتو په نظر کې نیولو سره دڅېړنو ارزونه!

۱۰- په تحصیلي موسسې کې د اړتیا پربنسټ څېړنیزو او نوښتیزو فعالیتونو ته د پرمختګ ورکولو له لارې د ټولنې او پوهنتون ترمنځ د اړیکو پیاوړي کول.

۱۱- د پوهنځیو د څېړنو کمیټو د فعالیتونو او د تحصیلي موسسې په کچه د څېړنیزو فعالیتونو د راپورونو ارزول.

۱۲-دڅېړنو په برخه کې دپوهنځیو ترمنځ همغږي رامنځته کول او دهغوی دعلمي څېړنو د ساحو په پېژندنه او تشخیص کې همکاري کول.

د خېړنو پاليسي د خېړنو او تحقيق د تنظيم کميټې د ( ۱۴۰۱/۱۲/۱۶ ) نيټې په (۷) پروتوکول غونډه کې تاييد او ثبت شوه.

۱۴۰۱/۱۲/۱۶

د خېړنو پاليسي د موسسې د علمي شورا د (۱۴۴۴/۱۰/۲۷ ) نيټې په (۶) پروتوکول غونډه کې تاييد او ثبت شوه.

۱۴۴۴/۱۱/۲